سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۱۳/۰۸/۳۱

# د لوی افغانستان لپاره دبنکېلاکګرو، یرغلګرو نوی امپریالستي پلان

سریزه:

د ډیورنډ تحمیلي کربنه د کاغذ پرمخ او د شمالي جنوبي افغانستان پلان شوي دسیسه

د افغانستان د خپلواکۍ په پنځه ډیرش کلنه جګړه او روان خونړي کړکېچ کې د امریکا، بریتانیا، پاکستان، ایران، روس، هند او د ناټو ګڼ شمیر هیوادونه ښکېل دي. که د نړۍ جګړیز تاریخ ته وکتل شي او په کې د بیلو بیلو جګړو لاملونه وپلټل شي، نو څرګنده به شي، چې دجګړو د ظاهري پلمو تر شا نورې سترې ستراتیجیکي سیاسي، اقتصادي موخې پرتې دي، چې د وخت له تیریدوسره بیا ورو ورو دغه پوځې موخې را برسیره شوي هم دي.انګریزان او امریکایان اوس په افغانستان کې د خپلو پوځونو د خوندې ساتلو لپاره په افغانانو د سیاسي فشارنو نورې لارې چارې لټوي.

**دلوی افغانستان د ویشلو، ټوټه ټوټه کیدو لپاره د انګریزي، امریکایي او پنجابي امپریالستي نیواکګرو، یرغلګرو پلانونه، دسیسې د استخباراتي ادارو اجنټانو، د بهرنیوچاروسیاسي ډیپلوماټانو، د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو، د یرغلګرو هیوادو سفیرانواو د ناټو پوځي جنرالانو ترمنځ د پټو پټو ناستو ولاړو خبرو اترو څخه داسي مالومیږي، چې امریکایي او انګریزي جنرالان د پنجابي جنرالانو سره په ګډه هڅې کوي، د افغانستان د امنیت او دځان خوندي کولو په اړه یوه سیاسي معامله وکړي. دوی دلوی افغانستان د ویشلو په اړه لړ ترلړه دلاندي دوو ستراتیجیکي پوځي موخو ترلاسه کولو لپاره خپل تور، پټ او پښتون افغان ضد ناکامه خونړي پلان لاتراوسه تر لاس لاندي لري.**

**پاکستان د خپل زیږیدو څخه تر ننه د بریتانیا سره د غلامي او چاپلوسۍ ژورې تاریخي اړیکې لري. اوس یې له امریکایانو سره د ترهګرې په خلاف جګړه کې افغانستان د ویشلو او ټوټه کیدولپاره په نوبو دسیسې او توطیولاس پوري کړي دی. دغه هیواد په سیمه کې د بریتانیا او امریکا د سترو پوځي ستراتیجیکو موخو لپاره یوه ستره جنګي اډه او یوپوځي ګارنیزوني هیواد دی. پاکستان یا پنجاب دافغانستان دخاوري ستره برخه پښتونخوا، ازاده قبایلي سیمه او د افغانستان د اقتصاد شارګ د ګوادر بندر ترانزیتي لاره لکه د انګریزانو د پخواني امپراتورۍ په قالب کې په چل ول او پل اشغال کړي ده.**

**لومړي: انګریزي، امریکایي جنرالان د پنجابي جنرالانو سره په ګډه په لر او بر لوی افغانستان کې د خپلو پوځي اډو خوندي کولو په اړه له یوبل سره له ډیرې مودې راهیسې پوځي تکتیکي دوه اړخیزه مرستې او معاملې پیل کړي دي.**

**دوهم: ښکېلاکګر ځواکونه او پوځونه غواړي، له یوبل سره دپټو سیاسي، پوځي همکاریو له لارې یوبل ته امتیاز ونه وکړي، تر څو دوی په لر او بر افغانستان کې د سخت دریز و وسله والو طالبانو د غورځنګ د ګواښونو پروړاندې ګډ دریځ غوره کړي او په افغانستان اوسیمه کې د تلپاتې سولې، امنیت او سوداګریزو اړیکو راواستو په اړه ګډه همکارې ولري. نیواکګر او استعمارګر غواړي، د خپلو استعماري پلانونو له لارې په منځني اسیا کې د طالبان غورځنګ د شطرنج په ستره لوبه کې په کشت کې راګیر او بلاخره په مات کړي. دلته مطلب د هغو خپلواکو طالبانو او عناصرو څخه دی، چې دوی استعماري، امپریالستي ګټې او پلانونو ته خنډ او له کنټرولړه وتلي ډلې دي. یرغلګر هڅې کوي له همدې لارې د خپلو سترو سیاسي، پوځې، اقتصادي ستراتیجیکو موخو لپاره لاره هواره کړي. دوی اوس د شمالي او سویلي افغانستان د ویشلوپټ پلان طرحه هم له ځانه سره لري او د افغانستان په دننه کې ځیني بدنامه پیژندل شوي، پلورل شوي، نمک حرام، بي بیخه، بي بنیاده، ناپوهه او پلید ایراني او پاکستاني مذور عناصر، دغو استعماري ناکامو شومو خونړي پلانونه ته چکچکې وهي، دوی د افغانستان په دې سیاسي بد حالت کې د ملکوالطوایفي، غیرمتمرکز، فدرالي او پارلماني نظامونو غوښتنې په سرکې لري.**

**د آی ایس آی تور پنجابي نیواکګر افسران د خپلو پوځي مهمو موخو د ترلاسه کولو په بدل کې د امریکایي او انګریزي جنرالانو څخه د همدې سیاسي معاملې په بدل کې امتیازونه غواړي، د امریکایي پوځي اډو په شتون کې د**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**افغان اوسني کمزوري، مفسد، انحصاري ماتيدونکي حکومت او يا دراتلونکي ملي مرکزي پراخ بنسټه، خپلواکه افغان شموله دولتونه د ډیورنډ تحمیلي کرښي منلو ته اړ باسي.**
په لوی افغانستان کي ښکېلاکګر او نيواکګر په خپله خوښه او ګټه دافغان ملت د ارادي خلاف، د افغانانو د ځمکني بشپړتيا، د ملي ګټو او ملي يووالي پرضد ناولي خونړي پلانونه طرحه کړي دي. **د افغانستان په اړه دانګريزانو، امريکايانو سياست لکه د پاکستان او ايران په څير يو دوه مخي تور استعماري سياست دی.**
**په ډيرخواشينی سره بايد وويل شي، يرغګر او نيواکګر په دې ښه پوهيږي، چي افغانستان خپل خپلواک منځلاري ملي قيادت نه لري. اوسني سياسي سياستوال بي اتفاقه، ځان غوښتونکي، په خپلو ورو ورو ډايرو، دامونو او سخت دريزو ګوندي کړيو کي راګير پاتي دي. دوی د ډيورنډ کرښي او د افغانستان راتلونکي دولت په اړه ټولوته يوه منل شوي په نړيوالو معيارنوسياسي طرحه اوتکلاره نه لري. يرغلګر ډير ښه پوهيږي، چي دولتي ولس پښتانه افغانان په خپلو کي سره ويشلي دي. دوی د بي اتفاقي د اور په لمبو کي هره ورځ سوځي ادجګړې په ناوړه روحي ناروغي کي اخته دي.**
**افغاني اسلامي مذهبي ډلي تل د پنجاب د تيري او شومو پلانو په وړاندي چوپتيا غوره کړي. کله چي افغاني اسلامي ډلي پر لراو بر پښتنو باندي د پاکستان پوځ ښکاره تيري او ظلمونه غندي، سري ته داسي ښکاري، لکه چي ملګرو ملتونه پر فلسطينيانو د اسرائيلي پوځيانوبريدونه، ظلمونه او جنايتونه غندي. دوی هيڅ داسي نه ښکاري، چي افغاني اسلامي مذهبي ډلي د افغانانو ترمنځ د يوموټيتوب، سلامتيا او له ملي ګټو څخه دفاع کوي، دوی د پنجابي پوځيانود تيري په وړاندي د خپلي پلارني خاوري او ځمکني بشپړتيا څخه دفاع فکر په سر کي نه لري. افغاني اسلامي سخت دريځه ډلي لکه د نور يرغلګرو په چوپړکي د افغاني دلي د خپل کړيدلي در په دره ولس سره هيڅ ډول خواخوږي نه ښيي.**
د افغاني اسلامي ډلو يوه بله ستره بدمرغي دا هم ده، د دوی ډلو د ځينو مشرانو ماغزه د آي ايس آي د وژلو په فابريکو او يا مدرسو کي مينځلي شوي دي. دوی ته په دغه مدرسو کي د انګريزانو د ډيورنډ استعماري کرښه په رسميت ورپيژندل شوي ده، دوی اصلاً پنجاب د يو استعماري ځواک په څير نه پيژني او که پيژني بيا ورته غلي دي. د پښتنواسلامي ډلي پر خپلو پښتون ولس د پنجاب پوځي تيري، ظلمونه او ناروا اشغال نه ويني. دوی د انګريزي جنرالانو خبره د پنجابي جنرالانو په خوله مني. ځينو ملايانو په خپلو فکرونو کي په لوی افغانستان کي د انګريزانو استعماري کرښه او د انګريز استعمار منلي دی.

داستعمارګرو يرغلګرو د A ,B,C تور پلانو طرحه
امريکايانو دخپل A پلان له مخي افغانستان ترخپل پوځي اشغال لاندي راوست. دوی اوس غواړي پښتانه افغانان هم ترخپل پوځي کنټرول لاندي راولي. دوی د خپلو پوځي موخي لپاره په بل پلان باندي کار پيل کړو.
په پايله کي په نوي ډهلي کي دامريکا سفير Robert Blackwill د B پلان وړاندي کړو. د دي پلان له مخي افغانستان بايد په دوو برخو وويشل شي. د پلان له مخي د افغانستان سويلي برخه بايد د طالبانو او پنجابيانو په واک کي ورکړل شي او شمالي برخه به ديوداسي ګوډاکي حکومت ترکنټرول لاندي وي، چي د امريکايانو په چوپړ کي بايدوي. په امريکا کي د دي پلان په اړه لا تر اوسه تودي خبري اترې رواني دي.

د افغانستان د ټوټه ټوټه کيدولپاره د لندن ستراتيجيکي استعماري طرحه د سي پلان C په نامه يا ديږي. د دي پلان له مخي افغانستان به په اتو اداري واحدونو يا زونو د توکمو په پر نسيب ويشل کيږي.

د لويديځ درسنيو په حوله د انګريزانو د بهرنيو چارو وزارت دغه سي پلان له امريکايي او پاکستاني چارواکو سره هم شريک کړي دی. د دغه پلان له مخي افغانستان بابد په اتو زونو يا کوشنيو حکومتونو وويشل شي او ځيني سيمي به د طالبان په ولکه او کنټرول کي هم ورکړل شي.

انګريزانو د خپل استعمار زړه نسخه، فلسفه او پاليسي بيا راميدان ته کړه، چي وايي، ملت يا خلک وويشه او حکومت ورباندي وکړه.

د انګلستان د محافظه کار ګوند سياستوال او د ولسي جرګي غړي Tobias Ellwood په ډاګه ويلي دي، چي د پلان له مخي به د افغانستان ځيني اداري واحدونه يا زونونه طالبانو ته وروسپارل شي. دغه هيواد به خو سيمه ايزه اداري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

دولتي يا فدرالي نظام په ځير واحددونه ولري اوهره يو برخه به د يوځواکمن لومړي وزير له خوا اداره کيږي، تر ځو دغه قبايلي ،توکمي شخړې او ادراري فساد ته د پای ټکي کيښودل شي.

د سي پلان له مخې به افغانستان په لاندې اداري زونونه د فدرالي حکومت په ځير وويشل شي، لکه کابل، کندهار،هرات، بلخ، کندوز،ننګرهار،خوست او باميان.

د پاکستان د صدراعظم د امنيت سترسلاح کار، د پنجاب ستر مکار د انګريزانو ستر خدمتګار سرتاج عزيز هم دانګريزانو د C پلان له مخې د شمالي ټلوالي سره پټې خبرې اترې بيا پيل کړي دي.

انګريزي استعمارګرو او امريکايي امپرياليستي استعماري پلان جوړونکي له خپلو غلام صفته پنجابيانو سره غواړي، افغانستان له تجزيې سره مخامخ کړي او افغانان په ډير نور بدمرغيو، ستونزو، خونړيو کورنيو جګړو کې سره ووژني.

امريکايان دافغانستان د راتلونکي دولتي نظام يا فورم لپاره بل ډول استعماري پلان هم لري، دوی دافغانستان د مرکزي دولتي نظام په رياستي فدراتيف نظام د بدلو پلان هم لري. امريکايانو په دې اړه د شمالي ټلوالي له مشهورو بدناموجنګي جنايتکارانو او جنګسالارانو سره په کور د ننه او بهر ډيري پټې ناستي ولاړي خبرې اترې هم ترسره کړي دي.

يرغلګر خپل استعماري پلان په لومړی ځل څو مياشتي مخکې د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا ځانګړی استازی مارک ګروسمن له يوه سيمه يز تلويزيون سره په يوه مرکه کې رابرسيره کړو او وويل، د امريکا حکومت ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د بيلتون رسمي کرښې ګڼي، دا د امريکا متحده ايالاتو پاليسی ده. په بل ځاي کې د افغانستان لپاره د امريکا سفير جيمز کنينګم کندهار ته د خپل سفر پرمهال ژورنالستانو ته وويل، دا څه نوې خبره نه ده، يواځې امريکا نه، بلکې يو شمېر نور هېوادونه هم ډېورنډ کرښه د پاکستان او افغانستان تر منځ د رسمي پولې په توګه پيژني.

د امريکا د بهرنيو چارو مرستيال وزير Willim Bruns په کابل کې خبريالانو ته وويل، چې د ډيورنډ دکرښې په اړه د واشنګټن رسمي دريځ هماغه دی، چې د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا پخواني ځانګړي استازي مارک ګروسمن بيان کړی وو، يعني د امريکا په اند، دا کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ نړيواله په رسميت پيژندل شوې پوله ده.
ورسره په کابل کې د انګريزانو سفير Richard Stagg د ډيورنډ کرښې په اړه وايي، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خولسيزو راهيسي د ډيورنډ تاريخي سرحدي کړکېچ، کوم چې دواړه هيوادونوپه اړيکو باندې ډيره ناوړه اغيزه لري، دا کړکېچ دومره پيچلي نه دی چې حل نشي. د انګريز سفير Richard Stagg د دواړو هيوادو څخه غواړي، چې دوی بايد د دغې تاريخي کړکېچ په اړه جدي خبرې اترې پيل کړي. د ډيورنډ کړکېچ حل به په سيمې کې سيمه ايزه سوله او ثبات به رامنځ ته کړي.
دغه انګريزي ډيپلومات په ډګر وايي، چې د ورستيو لسوکالونو څخه مخکې وختو ته په کتوسره، نن د افغانستان او پاکستان ترمنځ دغه سرحدي پوښتنه ډيره اسانه حل کيداي شي. د انګريز سفير اشاره داوسني مفسد، کمزوري، د جنګسالار او پښتون ضد انحصاري حکومت ته وه. کوم استعماري پلان د انګريز سفير Richard Stagg د ډيورنډ نړيوال کړکېچ د حل په اړه چمتوکړي و، ده د نور جزياتو ورکولو څخه ډډه وکړه.
په دې اړه يو روسي سياسي کارپوه Alexander Knyazev ، د ډيورنډ کرښې په رسميت پيژندلو په اړه ديو توافق ليک يا لاسوند څخه خبر ورکوي، کوم چې د افغان حکومت يوې ځانګړې پښتون ضد کړی له خوا چمتوکړل شوي وو. دی وايي، دوه کال مخکې د حامدکرزي د حکومت يوې برخې دغه توافق ليک د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحد په توګه د ډيورنډ کرښې په رسميت پيژندلو په اړه چمتو کړل شوي وو.
له دې توافق ليک سره به کرزي مجبور کړل شی، چې د افغانستان د اکثريتو وګړو په ځانګړې ډول د ملي پښتنو د سختو ناراميو او منفي غبرګونو سره مخامخ شي. په ځانګړي توګه د هغو وطنپالو، هيواد پالو پښتني کړی يا ډلې له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خوا، کوم چي دوی د لراو بر پښتنو افغانانو د بيا يوالي لپاره مبارزه کوي، دغه پښتانه هغه پښتني سيمي چي اوس د پاکستان تر ولکې لاندي دي، د افغانستان سره بيرته يوځای کول غواړي، دوی دغه سيمه خپل قانوني، توکمي او تاريخي حق بولي. د پښتنو دغه ستره کړی، کرزي به له ډير سختو، ننګونو، غبرګونونه او ناراميو سره مخامخ کړي .

روسي کارپوهان او دسيمي پوځي ستراتجيستان په امريکا کې دجوړه شوي امريکا يي پوځي ستراتيجي ته، چي له مخه يي په مرازي شريف کې هم دامريکانو يوه پوځي اده جوړه شوي، دوی دغي پوځي اډې ته د منځي اسيا د نارامه کولو او بدامني په سترګه ورته ګوري.

د روسي د پوهنيزو چارو د اکادمی او د ختيځ انسيتيتوت غړي Alexander Knyazey په دې اند دی، چي متحده ايالات تر ټولو لومړني موخه دا ده، چي په سيمه کې نارامي او بدامني ته لمن ووهي. ده دا هم وويل، په عمومي توګه د امريکا او د ناټو په ستراتيجي کې مهم ټکې د مرکزي اسيا، ققفاز او قزاقستان نارامي شامله ده.

**د پاکستان په ستراتجيکي ژوره کې تر ټولو لوی او مهم ټکي لومړی له افغانستان سره د ډيورنډ کرښې مسٔله . دوهم دستر ورور هند سره د کشمير لانجه او د ټومي جګړې ګواښ. دريم د مرکزي آسيا بازارنو ته د پاکستاني سوداګريزو مالونوتګ راتګ ته لاره موندل دي.**

**د پاکستان تر ټولو لويه ستونزه له افغانستان سره د ډيورنډ نه منل شوي کرښه ده، دا غوښتنه په وارو وارو د پاکستاني چارواکو له لوری په يوه او بل ډول تکرار شوې او په ډول ډول پلمواو چلونو دوی غوښتي، چي په يوه ډول دي کرښي ته رسميت ورکړي. پاکستان دا غوښتنه څوڅو ځلي د طالب له مشرانو څخه هم کړي وه.**

يوڅوموده مخکې په دې اړه د نيويارک په ښار کې د افغانستان، انګلستان او پاکستان د جګپوړو پريکړه کوونکو چار واکو دري اړخيزه ناسته راوغوښتل شوي وه.

افغان ولسمشر منلي، چي پاکستاني پنجابي واکمنو په رسمي ناستوکي له ده سره د ډيورنډ کرښي موضوع مطرح کړي، اما د افغان چارواکو له خوا پر دغي موضوع خبري رد شوي دي. په بل ځای کې د افغان حکومت چارواکې وايي، چي د پاکستان حکومت په خپلو خبروکي اکثره په غير مستقيم ډول او کله ناکله هم په مستقيم ډول دغي موضوع ته اشاره کړي، خو موږ په ځواب کې ياهيڅ هم نه دي ويلي او يا مو ورته ويلي، چي دا موضوع د بحث موضوع نه ده.

د دغي دري اړخيزې ناستي مهم او پيچلي ټکي د کابل او اسلام اباد ترمنځ د ستراتيجيکي ټرون موضوع وه. د دغي موضوع په اړه دواړو هيوادنو په سياسي کړيوکي ډول ډول سياسي بحثونه وشول او په ډليزو رسنيو کې غبرګونونه وښودل شول. که څه هم دغه کړي د دواړو هيوادنو ترمنځ د امنيت په اړه ستراتيجيک ټرون او ګډه همکاري مهمه بولي، دوی په دې اندهم دي، چي د دواړو هيوادو ترمنځ د سرحدي کړکيچ حل، هواري دګډې همکاري اودافغانستان د ثبات لپاره لومړني شرطونه دي.

ډيري افغان کارپوهان په دې اندډي، چي دواړه هيوادونه مجبوردي، لومړی د اعتماد فضا رامنځ ته کړي. دوی دا هم وايي، هرهغه هيواد چي د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ستراتيجيکي اړيکو غوښتونکي دی، هغه هيواد مجبور دی، لومړی د دواړو هيوادو ترمنځ سرحدي کړکيچ د افغانستان د قانوني او تاريخي روا غوښتونو په پام کې نيولوسره حل کړي.

د افغانستان په سياسي بحثونو کې د ډيورنډ کرښه يوه تيوريکي فرضي کرښه ده او د هيواد په سياسي ادبياتو کې دغه کرښه يوه تحميل شوي سره کرښه بلل کيږي.

په ۱۸۸۳ کال کې د ډيورنډ سرحدي کرښه د امير عبدالرحمان خان او په هند کې د انګريزانو د بهرنيوچارو وزير سرمارتيموړډيورنډ ترمنځ، چي دا محال د امير حکومت د بريتانيا د کولونيالځواک تر قيموميت لاندي و، د يوتوافقليک له لارې د کاغذ پرمخ د ډيورنډ کرښه د لوی افغانستان ترمنځ په يو ډير خورا نازک او حساس وخت کې لکه د افغانستان د همداوسنيو حساسو جنګي حالاتو په څير ويستل شوه.

کله چي ستر هندوستان خپلواکي ترلاسه کړه، ورسره سم افغانستان ته نوی سياسي پرابلم پاکستان رامنځ ته شو. افغانستان له پيله پاکستان يو خپلواک هيواد په څير په رسميت ونه پيژند. د افغانستان دهغي مهال شاهي دولت د ډيورنډ کرښه په رسميت ونه پيژندله. له همدې امله ترننه د افغانستان او پاکستان ترمنځ سرحدي کړکيچ شتون لري. کله کله دغه کړکيچ دواړو هيوادنه د سياسي او پوځي جدي پرابلومونو سره مخامخ کوي. افغانستان په دغه لاره کې ستره مادي او معنوي قرباني ورکړي. د ډيورنډکرښي کړکيچ د لراو بر پښتنو افغانانو د سر بقا او نړی کې د دوی د تاريخي شتون لپاره يوه يوطرفه حياتي جاده ګرځيدلي ده.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

دلراو برو پښتنو غم او خوشحالي په ګډه دي، دوی تل خپل دوښمن په ګډه په ډیره ښه توګه په ګنډو کړي دی. د پښتنو افغانانو دواړه غاړې په دې ښه پوهیږي، چې نړیوال کلي کې د پنجاب له خوا ددوی ترمنځ د ویشلتوب اوبیلتون لړې ورو ورو د پښتون ستر ولس د ابدي مرګ لامل ګرځي.
او س یو ځل بیا د لندن پریکړه کونکې چارواکې او د مکناتېن پوځ لمسیان په سیمه کې را جوت شوي دي، ترڅو افغانستان سیاسي، جغرافیایي برخلیک ټاکوونکې جوړښت وټاکې. دوی خپلې زبرځواکې اغیزې څخه په ګټه اخیستنې سره هڅه کوي، د لندن واشنګټن او اسلام آباد ناکامه تور پلانونه کوم، چې د لویدیځ ګټې او انټرس په سیمه کې تضمینوي ان د پوځي زور له لارې هم پلي کړي.
متحده ایالات، انګلستان او پاکستان د خپلو شومو پلانونو د عملي کولو لپاره له یوې خوا نا امنیوا نا ارامیوته لمن ووهیله بلخوا غواړي افغانستان په ځوبرخو وویشي یا د افغانستان تجزیه ته لاره هواره کړي.
دا د لویدیځ له دوه مخي سیاسي تکتیکونه څخه دي، تر څودوی په افغانستان کې خپل پوځي حضور ته تر ډیرو نورو کلونو مشروعیت ورکړي. په دې برخه کې د لویدیځ ډله ایزه رسنۍ د افغانستان د امنیت په اړه ګډوډې او ضدونقیض تبصرې خپروي. له یوې خوا لیکې، د ناټو پوځونوله وتلو سره سم، په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل کیږي. په همدې اړه د لویدیځ پوځې، امنیتي او سیاسي انسیتیټونو او د متحده ایالاتو پوځې کړي ټول په یوه خوله دي، چې د امریکایانود وتلو سره سم طالبان به بیا دغه هیواد تر خپل کنټرول لاندې راولي.
دساري په ډول امریکایي ورځپاڼه واشنګټن تایمز، افغانستان کې د نا ټو د ځواکونو مرستیال بولندوي انګریزې مل پاسوال Adrian Bradshaw له خولې لیکې، دی له افغانستان څخه په بیړه د نړیوالو ځواکونو د ژر وتلو ته ګوتڅنډنه کوي. د متحده ایالاتو د فاع وزارت یا پنتاګون له دغې حالت څخه ګټه اخلي او د کال تر پایه به درې زره نوي امریکایي سرتیرې په دوو جوپو کې افغانستان ته واستوي. تر څو د افغانستان امنیتي ځواکونو سره مرسته وکړي.
**انګریزانو او امریکایانو نن د ډیورنډکرښې په اړه دپنجاب په ګټه خپل سیاست افغانانود ملي ګټوپرخلاف بدل کړي، ورسره به ورو ورو د دوی نورې نوي ناولې څیرې، دسیسې او معاملې را څرګندې شي. امریکایي جنرالان غواړي، له پاکستان سره د افغانستان دامنیت او د خپلو پوځونوخوندې کولو په اړه یوه پټه سیاسي تکتیکي معامله وکړي.**
هغه مهال کله چې د افغانستان او پاکستان لپاره د سپیني ماڼۍ پخواني ځانګړي استازي مارک ګروسمن د ډیورنډ د رسمیت پیژندنې خبره کړې وه، په دې اړه د لوی افغانستان دلراو بر پښتنو افغانانو او همدا راز په پښتونخوا کې د پښتنوملتپالواو سیاسي فعالانوله خوا سخت غبرګونونه وښودل شول.

د ډیورنډ کرښې په نښته کې د یو افغان سرتېرى د وژل کیدو سره د ټولو افغانانو غوسه او قهر راوپارولوشو، ورسره جوخت په کابل کې د مدنې ټولنو غړو او نورو لسګونو افغانانو په ټول افغانستان کې پاکستان وغندو او پر ضد لاریونونه تر سره کړل. د افغانستان په ډیرو ښارنو کې سلګونو تنو د افغان ځواکونو په ملاتړ او د پاکستان پر ضد لاریون وکړل او د هغه هېواد بیرغ یې لومړی تر پښو لاندې او بیا یې وسوځاوه.
وروسته له دې چې امریکایي ګروسمن او نورامریکایي او انګریزي چارواکو ورستۍ څرګندونې وکړې، د هیواد دننه او بهر د بیلابیلو افغاني کړیو پراخ غبرګونونه راوپارول او له امریکایي سفیر نه یې د خپلو خبرو بیرته اخیستلو غوښتنه هم وکړه. په دې کې هېڅ شک نشته، چې د ډیورنډ کرښه د لوی افغانستان دغمیزي پای، دپنجاب واکدارنود لاسوهني پای، دسیمې د امنیت، سولې اړ د اقتصادي ودې اصلي کیلي ده.

### افغان ولس به د زهرو ډیر نورجامونه وڅښي، خو هېڅکله به د ډیورنډ کرښه ونه مني

**افغان بي دفاع مظلوم ولس په دې پوهیږي، چې د دریو واړو یرغلګر هیوادو پوځونه په اټومي مدرنو وسلو اونوې جګړه یزو تجهیزاتو باندې سمبال زموږ په سپڅلي تاریخي خاوره کې برچه پک دریدلي دي. دوی زموږ په سپیڅلي خاوره کې د نورو بیګناه خلکود وژلو لپاره دتیارسۍ په حالت کې ولاړ دي. انګریزي، امریکایي او پنجابي یرغلګرو پوځونو د اټوم بم څخه پرته پر افغان میرني، بې دفاع مظلوم ولس باندې دهېڅ شي او دهېچ ډول وسلې استعمال څخه صرفه نه ده کړي او نه به یې په راتلونکې کې هم وکړي. د لراو بر لوی افغان ولس پرضد اوس د غو زور ورور، متکبر، ناراوا جګړه مارو، نیواکګرو جنرالانو، جنګې جنایتکارانو یوګډ استعماري اتحاد رامنځ ته کړي. دغي دریګوني دوه مخي بدرنګه افغان ضداتحادته د لوی افغانستان د ملي خپلواکو وګړو او ستر یوموټي دولتي ولس ځواب، چې دایمان په جزبه، دانسانیت، افغانیت او خپلواکي په ارزښتونو باندې سینګار دی. داسي دی، چې**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**افغانستان د ټولو میړنیو باعزته افغانانو ګډ کور دی، هر باعزته ملي افغان دبل میړني افغان د سترګو توردی. دغه هیواد یو تجزیه نه کیدونکې لرغوني هیواد دی. لرابر پښتانه افغانان ټول سره یودي، پر خپل وطن یې ځانانه قربان دي، نور باید تاسو یرغلګر بایدوپوهیږي، چې په دې خاورکې افغانانو ته ټول بهرنی او کورنۍ ظلم یرغلګر افغان نه منونکې پوځونه په ګونډو شوي دي.**

د افغانستان ملي او ګوډاګي حکومتونو، د افغان ملي ریښتني مشرانو او د افغانستان خپلواکو هیواد پالو وګړو له ۱۸۹۳ کال راهیسې له کله نه چې د انګریزانو لخوا د ډیورنډکرښه په نقشه کې پرافغان ملت کښل شوي ده. دوی د انګریزانو تحمیلي ډیورنډ کرښه تر اوسه په خپل وجود کې نه ده منلي. لراو برو افغانانو ایستل شوي کرښه هیچکله په رسمیت نه ده پیژندلې او راتلونکې نسلونه به یې هم انشاالله ونه پیژني. پرنن‌ني افغانستان باندې هیڅ کوم یرغلګراو نیواکګر ځواک رحم او زړه سوای نه دی کړي، چې افغانستان په شمالي او جنوبي برخو ونه ویشل شي. **دایوه ثابته خبر ده، چې دا هیواد دخپل جیوپولټیکي موقعیت او توکمي یا قومي جوړښت له امله یو تجزیه نکیدونکې هیواد دی. فرضاً د یرغلګرود پوځي زور او ویش په صورت کې دافغانستان په شمال کې پښتون، اوزبک، تاجک، ترکمن، هزاره او نور لږه کې به له یو بل سره څه کوي؟ څوک وایي، چې په شمال کې بیا د دوی ترمنځ کورنۍ جګړه نه پیلیږي. څوک به وایي، چې د طالبانو د غورځنګ څخه ورسته د چریانو غورځنګ دلوی افغانستان د ژغورنې لپاره رامنځ ته نشي؟**

**موږ ټول پوهیږو، چې لوی افغانستان له اوموڅخه تر اباسینه د سرکښو پښتنو افغانانو تاریخي هیواد دی. هر لویشت یې د نیکه او بابا کور دي، په هره دره کې د تورو نښاني دي. که تاجک دي که اوزبک دي، دلته یو افغان دی، چې فکرونه د نقاقپالي په سر کې، امتیاز یې د وهلو کشتن زما دی. په بله وینا د وهلو امتیاز دملي پښتون افغان دی. یرغلګر و دلراوبر خواره واره پښتنو یا د لرابر یوموټي افغان ولس ترمنځ قصداً او عمداً استعماري کرښه ایستلې غواړي. دوی له ځانه سره په خپلوتور و بکسونو کې د افغانستان دویشلو پټ پلانونه لري.**

**افغانان په ټینګ ایمان سره وایي، چې لوی افغانستان یوتجزیه نه کیدونکې هیواد دی، ننني افغانستان ته په نړۍ کې د شتون یواځینې لار همدا پاتي ده، چې دغه تاریخي هیواد او لرغوني افغان ولس بیرته سره یوشي، نور نه تجزیه کیږي. که دنړۍ کوم زبرځواک دافغانستان د ویشلو ارمان په زړه کې لري، دوی باید وپوهیږي، چې دا ارمان به خامخاله ځانه سره ګورته یوسي. په ځانګړي توګه د پنجاب واکداران باید دې وپوهیږي، چې دلته د انګریزي جنرال میکناټن، د روسي جنرال ګرمو وف او د امریکایي جنرال پټرویس پوځونه په بشپړ ډول مات شوي دي، که لوی الله پښتانه افغانانوته بیا اتحاد، اتفاق او ملي قیادت په نصیب کړو، پټانانو به بیا د پخوا په څیر د پنجاب تور غلام صفته ډارن جنرالان د اټوم بم سره یوځای په چکچکو پسي واخلي.**

**افغان ستر ولس هېڅکله دا استعماري کرښه په خپل وجود کې په رسمیت نه ده پیژندلې او هیڅکله به په راتلونکې کې هم کوم ملي مرکزي دولت ونه پیژني. نن لراوبر ستر پښتون افغان ولس په خپل پلارني تاریخي زړوکور کې د پرلپسي یرغلګرو پوځونو دشتون په وجه،** له یوشمیر برياوو، ناکامویو، ګډوډیو او بې اتفاقیو، ځانځانیو څخه ورسته، دوی یوځلي بیا د خپل تاریخي بیرته یوالي لپاره دیوې ستري ملي ارادې هوکړه کړي اوپه دې مهمه ملي برخلیک ټاکونکې لاره کې دیوې ستري تاریخي بیه ورکولو ته د چمتوکیدو په درشل کې دي. د پښتون ولس په تن کې د ډیورنډ تحمیلي کرښه د پخواني بریتانیا امپراتورۍ په وخت کې په داسې مهال کې رامنځ ته شوه، چې د پاکستان هیواد په نړۍ کې شتون نه درلود،ان پاکستان د هندي مور او انګریزي پلار څخه زیږیدلی نه و.

د ډیورنډهوایي کرښې ته په خپله د انګریزي امپراتورۍ هېچکله د یوې نړیوالي پولي په څیر نه دي کتلي. په نړۍ کې تراوسه هېڅ داسې لاسوند یا سند نه شته، چې د پښتون افغان ولس ترمنځ داکرښه د یوې نړیوالي پولي په څیر په کې لیکلي شوي وي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دوه اړخیزه اړیکو خونړي تاریخي کړ کیچ له کله نه چې د انګریزانو نړیوال امپایر او استعماري نیواکګر ځواک له نړۍ څخه ورک شوي او پنجاب دپاکستان په نامه په سیمه کې د بریتانیا په ځای را منځ ته شوي. له همدې مهاله د لر او بر پښتون افغان ولس په کور کې د مظلوم پښتون ولس پرضد د اسلام سپیڅلي دین تر نقاب لاندې یوه ډیره ظلمه، نا انصافه جګړه تحمیل شوي ده، دغه خونړي کړکیچ د پښتون سترولس په سپیڅلي لرغوني خاوره کې د یوې پیړۍ څخه په خپل شدت سره له حساسو شیبو او پړاونو څخه تیریږي. دغو یرغلګرو جنرالانو ته اوس داسې ښکاري، چې د نړیوال امنیت او اقتصاد ته د طالبان غورځنګ نه بلکې دډیورنډ استعماري کرښه اود پښتنو بیرته یوالي یو ستر ګواښ دی.

د افغانستان دخپلواکۍ په ورستي پنځه دیرش کلن جګړیز بهیر کې هر مسلمان ملي باعزته افغان ته او د نړۍ هربشر دوسته انسان ته د پنجاب سیاسي، پوځي چارواکو، د آې ایس آې استخباراتي ملایانو دوه مخي سیاست د اسلام سپڅلي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

دين تر ځيرې لاندې او د اسلام آباد يرغلګر واکدارنو تاريخي دښمني دپښتون افغان ولس پرضد ثابت شوي ده.
پنجابي پوځي جنرالانو تل خپله ستراتيجيکې ژوره دلوی افغانستان په وړاندې د پخواني شوروي اتحاد د تيري او د لويديځوالو يرغلګرو پوځونود سياسي، پوځې او جيوستراتيجيکي پلانوسره په تکتيکي ډول نوي سمبالوي او دوی خپله ستراتيجيکې ژوره په افغانستان او سيمه کې د سياسي جګړيزو حالاتو سره سم په ډير مهارت سره پرمخ بيايي. د پښتنو افغانانوسره د پنجاب واکدارنودښمني د انګريزانو له دښمنې څخه نورې ډيري ژورې تاريخي ريښېلري.
دا مهال په تيرو لسو کلونو کې د دواړو هيوادونو اړيکې تر بل هر وخته يوځلي بيا ډيرې سختي ترينګلي شوي دي.
اوس يوځلي بيا په لوی افغانستان کې د پنجاب يرغلګر جنرالانو ته دانګريزي او امريکايي يرغلګرو جنرالانوته په ګده يوه بله ښه د امتياز ورکول موقه مساعده شوي ده.
پنجابي جنرالان غواړي، د دغي معامعلي له لارې په يوه غشه دووې نښې ښکارکړي، دپنجابي جنرالان پاليسي له يوې خوا د ډيورنډ کرښې ديخوا او ها خوا پښتانه په انذوا کې سره بيل ساتل دي او ورسره د دواړو خواو ملي خپلواکه مخور پښتانه افغانان په نښه کول دي. له بله خواپښتنو ته امريکايي او انګريزي بي رحمه ناپوهه جنرالان ګواښونه کوي، دوی په ډيپلوماتيکه ژبه دافغانستان په لرغوني پلازمېنه لوی کندهار او په کابل کې پښتنوته وايي، د ستر پښتون دولتي ولس د سر نه ټيټولو په صورت کې به افغانستان په شمالي اوسويلي برخو وويشي او د خپل تور استعماري پلان له مخي به د پښتون افغان دولتي ولس ترمنځ بيا کرښه راوباسي، ورسره به د اوسني افغانستان په شمالي او جنوبي برخو ويشلو ته لاره هواروي کړي.
په ګوشته ولسوالي کې د افغان او پاکستاني سرتېرو تر منځ اووه ساعته جګړه وشوه او په پايله کې يې د افغان ځواکونو له خوا د پاکستان له خوا جوړ شوي تاسيسات ړنګ کړل شول.

د پاکستان پوځ له لوري د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د افغانستان په خاوره کې پرمختګ او پر افغان خاوره د توغنديزو بريدونواو دګوشتي ولسوالي پيښه ،د ډيورنډ کرښې دې غاړه کې پوځې تاسيسات او پوستې، د ډيورنډ د کرښې په رسميت پيژندولو د فشار له وجهې دهمدې پټ پلان له مخې د امريکايانو، انګريزانو او پنجابي جنرالانو له خوا عملي کيږي . په ازاد قبايل کې د پنجابي پوځيانو هڅې بي ګټې دي او افغانان به له داسو منحوسو پلانو نو له لارې د ډيورنډ کرښې منلو ته اړه ونه باسي، ځکه لراوبر پښتانه افغانان د بيرته يوالي په لاره کې ډير کار او پرمختګ کړي دی . د پښتنو افغانانو دبيرته يوالي مخه اوس د نړۍ هيڅ کوم وسله وال ځواک نشي نيوالي او پښتانه مجبور دي په نړيوال کلي کې د ستر پښتون افغان ولس کور برخليک اواختيار په خپل لاس کې اخلي، ټول افغانانو ته د افغانستان دسيمې او نړيوال امنيت خورا ډير مهم دی.
د ډيورنډ کرښې په اړه دامريکايانو، انګريزانواو پنجابيانو تور استعماري پلانونه او سياسي دريځونه د افغانانو پر دريځ باندې هيڅ ډول اغيزه نه لري. دوی په خپلو تورو استعماري پلانونو دافغانانو ملي کلک دريځ نشي بدلولای.
پاکستان د ډيورنډ د کرښې په اوږدو کې سرغړونې او افغانستان ته د ورانکارو استول له همدې امله دي. افغانستان کې امريکايانو انګريزانو له داسو پاليسيو او استعماري سياستونو سره خپل پوځونه مصونولي نشي او په داسو پلانونواوچلونوخپلو پوځونوته داوږدمهال شتون لاره هواره او برابرولي هم نه شي.
امريکايان، انګريزان او پنجابيان بايد له خپلو استعماري سياستونو څخه لاس واخلي. د انګريزي امپراتورۍ او د وخت شوروي اتحاد ناکامو پا ليسيو او لنډو سياستونه ته دې بيا نه ورګرځي. استعماري جنرالان غواړي، هره هغه شوني لار ه وکاروي، تر څو د دوی د يرغلګرو پوځونو پايښت دلته په افغانستان کې تضمين شي. که هغه د لوی افغانستان تجزيه وي، که د افغان دښمنه ګاونډې هيوادونو سره پټې دسيسه او پټ پلانونه وي او يا لاسپوڅې وطن پلورونکې، خاين جنګسالار، مليشايي ايتلافونه اواتحادي ډلو سره سياسي معامله وي . استعماري دسيسې او پلانو نه د افغانستان په کورنيو اوسياسي چاروکې جوته لاسوهنه ده. جوته خبر ده، چې دا استعماري پلانونه يرغلګرو او افغانانوته به ډيرناوړه ګواښمن خونړي عواقب له ځانه سره ولري.

### دافغانستان او دمتحده ايالاتو ترمنځ امنيتي تړون

د افغانستان او امريکې ترمنځ د امنيتي تړون پر سر يوداختلاف، جنجالي ټکې اويا يو شرط دا دی، چې د امريکا متحده ايالات بايد د افغانستان له ملي او نړيوالي پولو د ساتلو ضمانت ورکوي، په ځانګړي ډول د پاکستان سره د ګډې پولې، چې تل د دواړو هيوادو ترمنځ د شخړو او جګړو لامل ګرځي.
د امريکا متحده ايالات د يو ستراتيجيک ملګري هيواد په توګه د امنيتي تړون له مخې نه يوازې د پاکستان دلاسوهنو په وړاندې دافغان ملت او دولت ملاتړ وکړي، بلکې د زموږ دملي داعيه څخه هم په نړيواله کچه ملاتړ وکړي. نه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

داچي د خپل استعماري پلانونو له مخې د ډیورنډ تپل شوي کرښې ته مشروعیت ورکړي. امریکایان او انګریزان باید دا په ډاګه کړه، چې دغه کرښه د دواړو هیوادونو ترمنځ دیوی رسمي پولې په توګه نه پیژني.
که د افغانستان دولت د ډیورنډ د کرښې په مسئله کې د خپل نږدې ستراتیجیک ملګري امریکا ملاتړ له ځان سره ونه لري، بیا نو پرستراتجیک ملګري او پرامنیتي تړون باندې شک دی. افغانان به دداسې یو تړون ملاتړي نشي.
امریکایي، انګریزي او پنجابي یرغلګر پوهیږي، چې دډیورنډ کرښه په افغانانو تپل شوي ده. د افغانستان دهغې مهال افغاني دولتونو دا کرښه نه ده منلې، اوسني هم نه مني اود سبا هېڅ ملي دولت به هم دا کرښه په رسمیت و نه پیژني.
له یوې پیړۍ څخه دافغانانو یوه دولت ته د جګړو او یرغلونو له امله دا فرصت په لاس ورغلی نه دی، چې خپله بیله شوي خاوره بیرته له خپلې مورني خاوري سره یوځای کړي.
داسې اټکل کیږي، چې دافغانستان او امریکا تر منځ د دوه اړخیزو تړون له لارې د ۲۰۱۴ کال نه ورسته په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو پاتې کیدل لکه په عربي هیوادو په ځانګړي ډول د سعودي عربستان په څیر پوځي اډې ولري.
راتلونکي لویه جرګه باید په امنیتي تړون کې جوت کړي، چې دپاتیکیدونکې امریکایي سرتیرو دنده، شمیر، چیرته او د کومو شرایطو له مخې به دوی په افغانستان کې زموږ د ملي ګټو څخه دفاع او فعالیت کوي. ظاهراً داسې ښکاري چې امریکایي سرتیري به دافغانستان د امنیت او ملي ګټو ساتلو چارو کې دافغان امنیتي ځواکونو سره مرسته وکړي؟

د ډیورنډ کرښې کړکېچ پرحل باندې کله د نړیوالو قوانینو په چوکاټ کې کار پیل شي

**د وړاندیز په توګه:**
**نن د افغانستان ویشلي زخمي افغان ولس او وسلوال اپوزیسیون د دې جوګه نه دی، چې د پاکستان په وړاندې دغه مسئله ملګروملتونو او یا نړیوالي محکمې ته یوسي.**
**د ډیورنډکرښې کړکېچ دحل درسمي راپورته کولو لومړني شرط، په افغانستان کې تلپاتې سوله او د یوملي خپلواک قیادت د لارښوني لاندې دیو مرکزي ځواکمن ملي دولت رامنځ ته کیدل دي.**
**دوهم: د افغان مرکزي ځواکمن ملي دولت بایدد ډیورنډ شخړه د خپل ملي دولت د جنډا په سر کې لیکې وي.**
**دریم: مخکې له دې چې دغه مسئله د نړیوالو قوانینواو مراجعه له لارې راپوته شي، دغه مسئله باید د افغان ملي مرکزي دولت له خوا د پنجاب له واکدارنو سره په مستقیم ډول د دوو دولتونو ترمنځ دنړیوالو قوانینوپه چوکاټ کې مطره شي. د افغان راتلونکې ځواکمن ولسمشر د ډیورنډ کرښې د نه منلو خبره باید په جرعت سره اوپه ډګر د اسلام اباد له ستیژ ه هندو پنجابي ته، مسلمان پنجابي ته، دلندن انګریزته د واشنګټن امریکایي ته، دماسکو روسي ته او د تهران شیعیګانو ته اعلان کړي.**
**څلورم: افغان ملي دولت باید دخپلو یو شمیر کارپوه منل شوي حقوقپوهانو له لارې د ډنهاګ په نړیواله محکمه کې عرض شي. د ډیورنډ د کرښې د مسئلې د حل لپاره باید د نړیوالي تجربو او د نړۍ دنورو دولتونو ترمنځ د سرحدي شخړ و او قضیو څخه ګټه واخیستل شي او په ترڅ کې اقدام وشي.**
**پنځ: په ځانګړي ډول د انګریزانود پست کولونیال سیاست او همداشان د دولتونو ترمنځ د نورو کلونیالستي کرښو ایستلو قضیې بایدو څیړل شي.**
**شپږم: دنړۍ ولسونو، تولنو، دولتونو، ملګروملتونو پام باید دغې نړیوالې مهمې مسئلې ته راواړول شي. د خپلو دوستو هیوادوله دولتونو او ستراتیجیکو هیوادو پا م دغې تاریخي ناروا کرښې ته راوګرځول شي، لکه المان، فرانسه، کاناډا او چاپان.**
**اووم: د پښتونخوا له ملتپالو ورونو سره او دمدني ټولنو سره په دې اړه اړیکې ټینګې شي.**
**نړیوالو قوانیو ته په کتو سره ډیورنډ کرښې حقوقي اړخونه ډیر پیچلي حقوقي اړخونه لري. مرکزي ملي دولت باید دې ملي او نړیوالې مسئلې ته یوه حقوقي، تاریخي او سیاسي کارپوه ډله وټاکي. تر څو دوی د ډیورنډ کرښې په اړ ه ټول معتبر تاریخي، حقوقي، توکمي، کلتوري او دولتي اسناد او مدارک و څیړي او دیوې نړیوالي محکمې له لارې دغه قضیه باید وړاندې کړل شي.**

**پایله:**
**که د امریکایانو او انګریز انو سیاسي چارواکي، ډیپلوماتان او پوخیان دیوې لسیزې جګړو څخه ورسته اوس دې پایلې ته رسیدلي وي، چې په افغانستان د پاکستان له مرستې پرته شتون او په افغانستان کې سوله او پاتې کیدل**

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**ناشوني دي. دوی باید پوه شي، چې افغان مسلمان ولس به په خپل دې بیچاره ګې او یواځیتوب کې د الله ( ج ) په مرسته، دا ډول استعماري انګریزي، امریکایي او پاکستاني پلانونه، چلونواو فشارونو ته سر تیټ نه کړي او افغانانو به ا نشاالله دا ناولې دسیسې، د ویش استعماري پلانونه چې په هره بیه وي شنډکړي.**
**انګریزي او امریکایي ښکېلاکګر څواکونه باید په دې پوه شي، چې دا کړکېچ د نړیوال منلي شوي حقوقي پرنسیبونو پر بنسټ یوه کړکېچنه نه عملي کیدونکې کړښه ده. دغه کشاله نه یواځې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د اوږدو شخړو لامل دی، بلکې د سیمې او نړیوال امنیت د تباهې لامل ګرځیدلې هم شي.**
پنجابي جنر الانو د خپلې ژورې ستراتیجیکې پالیسې په وجه، د انګریز انو او امریکایانو په لمسون د افغان ولس د ګاونډیتوب نړیوال منلي شوي حقوق تر پښولاندې کړي دي، د افغان ولس پرخاوره لکه د یوخطرناکه دښمن په څېرله یرغله لاس نه اخلي. د یرغلګرو دهمدې تیرویو په پایله کې د پښتنو افغانانو دملي خپلواکۍ، یوموټیتوب، د ملي یوالي روحیه، ملي پاڅونوته په جګیدو او جنګیدو شوي ده. یرغلګر به ډیر ژر نشاالله د خپلو ناولې دسیسو ښکار شي.

د انګریزي او امریکایي چاروکو ورستۍ خبرې او وېناوې، د دې ښکارندوي کوي، چې امریکا او بریتانیا غواړي له پنجاب سره د لوی افغانستان دویشلو په اړه یوه پټه معامله وکړي. دوی د ډیورنډکرښې په اړه خپل **استعماري ناکام سیاست بیا تکرار کړي.**
**دپاکستان ډیورنډ کرښې ته رسمیت ورکولو هڅې، لکه د ډیورنډ پر کرښې اغزن سیمونه تاوول او د کرښې په اوږدو کې ماینونه او بمونه ایښودل او پوځي تاسیسات جوړول فعلآ ناکامه شول.**

**د اسلام اباد واکدارنو په وار وار دا ویلي، چې کابل باید وسوځي. تاریخ دا ثابته کړي، چې که کابل سوځي، نو پښتونخوا به هم ورسره سوځي. نوره د ډیورنډ دیخوا او هاخوا پښتانه افغانان د پنجاب داورلرګې نه دي، د جګړې ګټه به دیرغلګرو وي، تباهې او بربادي د پښتون ستر کور او د پښتون افغان ولس نوره نه وي.**
**د پښتنو په تاریخ کې چیرې هم دا نه دي لیدل شوي، چې کابل دپښتونخوا سره او پښتونخوا دکابل سره جنګیدلي وي. لراوبر پښتانه د اوږدو جګړو په بهیر کې د قبیلویت ژوندځخه ورو ورو دیو واحد ملت په څیر په لوی افغانستان اونړۍ کې په را څرګندیدو دي**
**پښتنو ته هغه پښتون افغان ژوندې مړ دی، چې دیرغلګرو پوځونودشوموپلانونو او د ډیورنډ استعماري کرښې په وړاندې نه وي راپاڅیدلي. پښتنو ته هغه مړافغان پښتون ژوندی دی، چې دیرغلګرو په وړاندې په سپیڅلي مبارز کې له نړۍ څخه سترګې پټې کړي وي.**
پښتانه دنړۍ او دافغانستان په تاریخ کې دولت جوړونکې او په خپلو اوړو دولت وړنونکې ولس یا دولتي ولس په څیرپیژندل شوي دي. دوی قصدآ دخپلو ټولو روا منل شویو نړیوال حقوقو څخه بي برخي کړل شول، د دوی حیثیت، شان، شوکت، ملي غرو او حساس دیرغلګرو، جنګې جنایتګارانو او د جنګسالارانو لخوا قصداً تر پښو لاندې کړل شوي دی.
یرغلګرو او په افغانستان کې دلړکې قومونه بدنامه پیژندل شوي څیرې، ائتلافونه، اتحادونه باید وپوهیږي، چې په افغانستان کې د فدرالي یا پارلماني نظام رامنځ ته کول، لړکې توکمونه له ډیرکې ولس سره جنګول دي. امریکایانو ان د بن په کنفرانس کې د پاکستان د خوشحالواو د خپلو شومو پلانو پلي کولو لپاره په نوی موقت حکومت کې د ملي وحدت احساس لرونکو، په ملي اسلامي یوالي روحیه ولاړو پښتنو افغانانو برخه یي داقلیتونو ظالمو، بدنامو جنګسالارانو ته ورکړه. د پښتنو د ټکولو لپاره دلړکیو دغو ملي ضد څیرو ته په دولت، وسله وال پوځ او ملکي ادارو کې ستره برخه ورکړل شوه. ترڅو دیو مرکزي څواکمن اسلامي ملي دولت مخه ونیول شي. پښتانه مجبور کړل شوي، چې د غي غیرعادلانه ناروا ویش په وړاندې را ویښ شي اوسخت غبرګونونه وښیي.
پاکستان هېڅکله په لو ی افغانستان کې ملي خپلواک دولت غوښتل څه، چې زغملي نشي، دوی ښه پوهیږي چې دافغانستان ابادي د پاکستان بربادي ده.

سایل لیکي:
**پېښور او کابل دواړه دوه یاران دي**
**لکه دوه سترګې په یو مخ د جانان دي**
د توري، قلم او میړاني خوشحال خان خټک بابا لیکي :
**د افغـــــان په ننګ مې وتړله توره**

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**ننګيالی د زماني خوشال خټک يم**

دافغان  پښتون ولس دخپلواکۍ لوی مخکښ ستر احمد شابابا ليکي:

ځان به وينښ کړوهرې خوا ته، هرې خواته  رقيبان دي
يو پر بل مو سره وژني، وايي خپل يو،غليمان دي

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ